Baghlan University Academic
Research Journal
https://baghlan.edu.af/ *Vol. 13, Issue. 1, Serial No. 36 (2025) 75-88*

# The information on Aryan,s Pashayi and settlements and dwelling places

**Faridullah Farhan**
Assitant Prof. Institute of languages and literature Nations Brother Academy of Science of Afghanistan.

**Corresponding Author:** Faridullah Farhan**, E-mail:** amlawal.farhan@gmail.com.

**Article Info** | **ABSTRACT**

**Article Type:**
Review Article

**Article History:**

**Received:** 20, July, 2024

**Accepted:** 21, April, 2025

**Published:** 15, June, 2025

In this title information about the Pashayi tribe is presented. The mention of this tribe is found in the historical text "Rigveda" under the name "Alina." Additionally, it highlights other works that have referenced the Pashayi tribe, elucidating their mentions. The names of the Pashayi settlements and dwelling places (villages, hamlets, valleys) are also included. This Aryan tribe is known to still reside in the provinces, regions, districts, villages, hamlets, and valleys of Afghanistan such as Kapisa, Laghman, Kabul, Nangarhar, Kunar, Nuristan, and others. Furthermore, various estimates and opinions regarding the population of this tribe in Afghanistan are provided.

**Keywords:** Pashayi, Aryans, settlements, population.

To cite this article: Farhan, F. : 2025. The information on Aryan,s Pashayi and settlements and dwelling places. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 13, Issue. 1, Serial No. 36 - Spring (2025), 75-88. License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.
Publisher: University of Baghlan



**د بغلان پوهنتون علمي او څېړنيزه مجله**

**مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان**

https://baghlan.edu.af/ *Vol 13. Issue. 1, Serial No. 36 (2025) 75-88*

# آريايي پشه‌یان او هغوی د اوسیدنځايونو پېژندونه

فريدالله فرحان

د افغانستان د علومو اکاډمی، ژبو او ادبیاتو مرکز، ورونو قومونو ژبو او ادبیاتو انستیتوت علمي غړی.

**اطلاعات مقاله**

**نوع مقاله:**
مقاله مروری

**تاریخ دریافت:**
۱۴۰۳/۰۴/۳۰ هـش

**تاریخ پذیرش:**
۱۴۰۴/۰۲/۱ هـش

**تاریخ انتشار:**
۱۴۰۴/۰۳/۲۵ هـش

**لنډيز**

په دې مقاله کې د پشه‌يي قوم په اړه معلومات وړاندې شوي دي. ددې قوم یادونه د تاریخي اثر (ريګويدا) کې د (الينا) په نامه شوې ده او ترڅنګ يې د هغو اثارو کې چې د پشه‌يي قوم په باب يادونه شوې روښانه شوي دي او هم د پشه‌یانو اوسېدو ځايونو نومونه(کلي، بانډې او درې) راوړل شوي دي، چې دا آريايي قوم د افغانستان په کاپيسا، لغمان، کابل، ننګرهار، کونړ، نورستان... او نورو ولايتونو او سيمو کې اوس هم ژوند کوي ،د دې څېړنې ارزښت او مبرمیت په دې کې دی چې د پشه‌يانو او د هغو اوسېدو داسې ځايونه(کلي ،بانډې،درې) هم پيژندل شوي دي چې په هېڅ آثارو کې يې يادونه نده راغلې او د څېړنې موخه مو دا ده چې لوستونکي د پشه‌يانو پېژندنې ترڅنګ د هغو اوسيدو ځايونه وپيژني. پشه‌يان په افغانستان کې څومره نفوس لري، دا او داسې نور بېلابېل روايات او نظرويات هم په دې څېړنه کې راوړل شوي دي.

**واژه های کلیدی:** پشه‌یان، آريايان، اوسېدو سيمې، نفوس.

استناد: فرحان، فریدالله. (۱۴۰۴)، آريايي پشه‌یانو او هغو د اوسیدو سيمو پېژندونه ، شماره۱، بهار(۱۴۰۴)، شماره مسلسل ۳۶، دور۱۳. (۷۵-۸۸) .
ناشر: پوهنتون بغلان.

**سريزه**

زمونږ وياړلي هېواد لرغونې آريانا او اوسني افغانستان پخپله غېږه کې ډېرو توکمونو، نژادونو او ژبو ته ځای ورکړی، روزلي يې دي او په دې وروستيو کې ټولو ته د افغان د نوم وياړ ور په برخه کړی دی، په دې مانا چې په افغانستان کې د پښتنو (پښتون) څخه پرته چې د افغاني ټولنې لويه برخه تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، پشه‌يي، بلوچ، نورستاني قومونه جوړوي او ددې ترڅنګ پاميريان، ايماق، پراچي، اورمړ، ساکايي، کشميري، ګوري، براهوی، کوردي، ګهواري يا چترالي، قرغز، قزاق، تيموري، لوديان، عرب، سادات، هندکيان، کشميريان، ګجر، مغول، تاتار، حبش او نور توکمونه او قومونه په دې خاوره مېشت دي. دغه ټول افغاني توکمونه او قومونه د پېړيو پېړيو په اوږدو کې په خپلو کې د ورونو په څېر اوسېدلي، په غمونو او ښاديو کې يې ګډه دريځ او د افغاني فرهنګ په لا بډاينه کې يې ستر رول لوبولی دی. له دغو افغاني توکمونو او قومونو څخه يو هم پشه‌يي قوم دی. پشه‌يان هغه آريايي افغانان دي چې د لرغوني بلخ څخه د لومړنی کوچيدنې څخه وروسته له پيړيو پيړيو څخه را په دې خوا زمونږ د هېواد په ختيځو برخو د هندوکش د غرونو په جنوبي لمنو، د کابل سيند په شمالي د پيچ او کونړ د سيندونو د يو ځای کيدو سيمې څخه نيولې تر ګلبهاره پورې او په ځينو نورو کليو او ښارونو کې د پښتنو، تاجکو، نورستاني او نورو ورونو ترڅنګ او آن په ګډه سره ژوند کوي. د دې څېړنې اهميت په دې کې دی چې د پشه‌يي قوم په اړه روايتونه او ميشت ځايونه پيژندل شوي. ددې ترڅنګ هغه سيمې چې پشه‌يان په کې اوسيږي او زياتو مطالعې لاندې آثارو کې يې يادونه نده راغلې په دې مقاله کې راوړل شوي دي؛ همدارنګه دې ياد قوم نفوس او په تاريخي آثارو کې ددې په اړه بېل بېل روايتونو زمونږ د دې څېړنې هسته تشکيلوي؛ خو لومړی د خپلې څېړنې له پاره اړ يو چې يو تګلاره وټاکو او بيا د هغې په رڼا کې خپله څېړنه بشپړه کړو.

**د څېړنې ميتود:** د دې څېړنې ډول کتابتوني دي او له تشريحي، تحليلي او ساحوي ميتودنو څخه پکې ګټه اخيستل شوې ده.

**آريايي پشه‌يان**

پشه‌يان د افغانستان اصلي اوسيدونکي او آريايان دي. له هغو لسو آريايي قبيلو سره تړاو لري، د راوي سيند پر غاړه يې د بهاراتا نومې قبيلې هندي پاچا «سوداس» سره جګړه کړې وه او د جګړې نه وروسته هندي پاچا خپل سرحد د دوی پر ص بندکړ او دغه قبيله، پکهت(پښتانه) الينا(پشه‌يان) ويسانن(ګندهاريان). داسې نور. الينا نومې قبيله د پشه‌يانو مېړني نيکونه ګڼل کېږي او د لسو قبيلو په جګړه کې، مېړانې او سرښندنې کې له هغوی سره ملګري وو.( ځدراڼ،۱۴۰۲،۶۱ص) پشه‌يان هغه آريايي افغانان دي چې د لرغوني بلخ څخه د لومړنی کوچيدنې څخه وروسته له پيړيو پيړيو څخه په د خوا په همدغه اوسنی سمسوره سيمه کې اوسېدلي او د خپلو لرغوني آريايي صکينيانو (اسلافو)

کړه وړه او کلتور يې تر نورو زيات په خپلو کې خوندي کړی او تر ننه يې موږ ته رسولی دی. د اروابناد سرمحقق دوست شينواري د ليکنې پربنسټ: « د تاريخ په پاڼو کې داسې شيبې نه شو موندلای، چې پشه‌يي ولس له خپلې موجوده بڼکلی شاعرانه غرني ټاټوبي څخه جلا وښيي»( کلماني،۱۳۸۹،٦ص). د ريگ ويدا د سرودونو په حواله او نورو موثقو اسنادو او دلايلو له مخې پشه‌يان او ځينې نور په لرغونو زمانو کې د( الينا) په نامه چې د هغه وخت د آريايی قبايلو په جگړه کې يې ځليدونکی مقام لرلی، ياد شوي دي او له هماغه زمانې څخه را پدې خوا په الينگار، اليشنگ، اله سای او د هغه په شاوخوا سيمو کې اوسيدلي دي چې ريښه يي تر اوسه په دغوو نومونو کې چې اوس هم پشه‌يي ميشتې سيمې دي موجوده ده. علامه حبيبي هم خپل اثر(تاريخ صتصر افغانستان) داسې ليکي« الينايي خلک د الينگار او اليشنگ خلکو ته ويل شوي دي.( ځدران، ۱۴۰۲،۱٦۰ص)

پشه‌يان په لرغونو زمانو کې د الينا څخه پرته د داديکا، داردي او آن گندهاري په نامه هم ياد شوی چې ځينې نور آريايي توکمونه او ولسونه هم په کې شامليږي. سربيره پر دې د بيلا بيلو څېړونکو او خلکو لخوا د لمگاني يا لغماني، ديگان يا دهگان (ديگانو) کوهستاني، نورستاني، خرېگا، شاړي او نورو نومونو هم ياد شوي دي چې دا زياتره يي سميه‌ييز او جغرافيايي نومونه دي او د نورو لخوا په سيمه‌ييزو لهجې ورته کارول شوي دي. ځينې خلک او آن پخپله د سيمې پشه‌يي خلک غرنيو پشه‌يانو او ژبې ته يې کوهستاني او کوشتاني وايی. کوم پشه‌يان چې په تيره د نورستان په سيمه کې مېشت دي د نورستاني په نامه هم ياد شوي دي. په همدې ډول په دې وروستيو وختونو کې ځينې خلک په تېره په ننگرهار او کوزه پښتونخوا کې له بې پروايي او يا د نه معلوماتو له مخې پشه‌يي خلکو ته د شاړی اصطلاح چې يوازې د پشه‌يي ژبې د شاړيک (تلل) له مصدر څخه د امر صيغه ده او د (ځئ) معنا لري کاروي او يا دا چې ځينې د لغمان د سيمې په تېره د لغمان د مرکز پشه‌يي ژبی خلک ددې لپاره چې دوی د (ش) غږ پر ځای ځينو پشه‌يي کلمو کې (خ) کاروي يعنی شاړی ته خاړی (ښاړی) وايي د خاړيگا په نامه ياد شوي دي.(فرحان،۱۹،۱۳۹۸ص)

د پشه‌يي قوم په باب د لومړی ځل لپاره په ديارلسمه پيړی کې د نامتو سيلاني (سياح) مارکوپولو له خوا څېړنې او ليکنې شوي دي،نوموړي ليکلي دي؛ د دوی سيمه چې د بدخشان څخه تردې ځايه پورې د لس نيمو ورځو د فاصلې په امتداد کې يو ولايت دی چې (پاشيای) بلل کيږي او دوی ځان لپاره خپله ژبه لري، ټول خلک يي بت پرستان دي او د ښکلو او په زړه پورو هنرونو سره بلد دي. دوی د کار ښه استعداد لري. په خپلو اخلاقو کې ډېر کينه کښ، ځيرک، سخت زړی او زړه ور خلک دي. دا ولايت يوه گرم سيره سيمه کې پروت دی . د دوی خواړه غوښه، وريجې او طبي بوټي

دي. یوه پیړۍ وروسته ابن بطوطه د پشه‌یي ذکر د بروان (پروان) سره نږدی یوه غره کې کوي. ( دوست،۴۲۳،۱۳۵۴ص) ظهیرالدین محمد بابر هم (۹۱۰هـ ق) کابل ته راغلی دی د کابل او د هغه شاوخوا بېلابېلو قومونو اوسېدونکو په باره کې یې په خپلو یادښتونو کې چې په بابرنامه یا توزک نامه سره شهرت لري، داسې لیکلي دي: « کابل ولایت کې صتلف قومونه هستوګن دي، په جلګو او میدانونو کې اتراک، ایماق او اعراب دي، ښار او ځینو سیمو کې تاجکان دي، او ځینې نورو ځایونو او ولایاتو کې پشه‌یي، لغماني، پراچې، تاجک، او ترک افغانان دي...» د دایرة المعارف فارسي لومړی ټوک (۱۷۹ ص) کې چې د غلام محسین مصاحب په سرپرستۍ لیکل شوی دی د افغانستان سره د تماس په ترڅ کې داسې راغلي دي: «عمده ترین قبایل هندو آریائی افغانستان قبیله‌ی پاشائی است، که نام محلی آن دهګان است، و ساکن کوهستان کابل و دره‌ی سفلای کنار...» یعني د افغانستان له هندو آریایي قبایلو څخه تر ټولو مهمه قبیله پاشایي ده، چې سیمه ییز نوم یې دهګان دی، چې د کابل په کوهستان او د کونړ درې په لاندینو برخو کې میشت دي.

په لنډه توګه ویلای شو چې پشه‌یي یو بومي او اصلي ژبې او قوم نوم دی، اسلام څخه دمه دغه خلک د الینایان، داردي، دپاشاچې یا پیشاچه په نومونو او د اسلام څخه وروسته په لږ توپیر پاشیایي، پشایي او پشه‌یي په نومونو یادشوي دي. خپله پشه‌یي کلمه په معمولي توپیر سره له زرو څخه تر دوه زره کلونو پورې لرغونتوب لري، چې ډېرې سیمې، دَرې او کلي هم په همدې نامه یاد شوي دي؛ لکه د نورستان په نورګرام د ولسوالۍ د پشګر دره، د لغمان د مرکز پشه‌یي کلی د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ پشه‌یي کلی د کوهستان ولسوالۍ پشه‌یي کلی، د پروان ولایت د چاریکارو د پشیان کلی، د بغلان ولایت د اندراب د ولسوالۍ د پشه‌یي دره، د خوست فرنګ ولسوالۍ کې تګاب پشه‌یي، د بغلان د زاړه ښار پشه‌یي کلی، پشه‌یي متوسطه ښوونځۍ او غونډۍ، د پلخمري لویدیځ خواته د بمبه کلي آخوا پشه‌یي دره، د تخار ولایت د اشکمش ولسوالۍ پشه‌یي دره، د بدخشان ولایت د شهر بزرګ ولسوالۍ پشه‌یي دره، د کابل د پغمان ولسوالۍ پشه‌یي دره او کلی، د غزنی ولایت د مالستان پشه‌یي(پشي) دره او داسې نور .

**د پشه‌یانو اوسېدو سیمې**

پشه‌یي خلک د پخوا په څېر او هم د لغمان، کاپیسا، ننګرهار ،کونړ، د کابل... او د هېواد په ځینو نورو برخو کې اوسیږي او په پشه‌یي ژبه خبرې کوي. دلته به په ترتیب سره د هغو ولایتونو لنډې پېژنګولۍ ترڅنګ د هغو سیمو ،کلیو او بانډو او درو نومونو ذکر شي چې پشه‌یان په کې هستوګن دي

**کاپیسا:** کاپیسا ولایت د ګران هېواد د لرغونو ولایتونو څخه شمېرل کېږي، د چیني مورخینو په متون کې (کی پس،کې پن) او همدارنګه د روم او یونانی پوهانو څېړنو له صې (کپېسا) په نامه یاد شوی.( لاموال،۲۱،۱۳۹۲ص). په لرغونو پیړیو کې د کاپیسا مرکز(بګرام) په (کاپیشی) په نامه یاد کړی دی،د چینایي تاریخ لیکونکی هیوان تسنګ د کاپیسا مرکز(بګرام)د (کا پې شی )په نامه یاده کړی دی.په لرغونو پیړیو کې کاپیسا او بګرام د اریایانو لرغونی مرکز او پلازمېنه وو، او ځینو پوهانو، مورخینو او څېړونکو د پاکو او راهیبانو هستوګن ځای او کلی په نامه هم یاد کړی دی، چې دا ښار(بګرام) د (۱۵۰ ق م نه تر ۴۷۵ م) ٦۲۵ کاله پورې د افعانستان امپراتورانو پایتخت وو، چې سیاست او تجارت له پلوه یې ځانګړی ارزښت درلود، چې د لوی کنشکا پاچا په دوره کې لوی پایتخت ګڼل شوی دی. اوسددې ولایت(کاپیسا) مرکز محمود راقي دی.

**د اله سای ولسوالي**

الهسای ولسوالۍ نږدې ټول وګړي پشهیان دي او په پشهیي ژبه خبرې کوي. ددې سیمې تر ټولو لوی قوم الهشاخېل دی چې له همدې کبله دغه ولسوالۍ ته اله شایي، اله سایي، او اله سای وایي. د الهسای په دې ولسوالۍکې د پشهیانو کلیو نومونه په دې ډول دي: وکه راجي، سلتن، لېشټ، ملکن، سورنګاو، شیرکه خېل، داوني، صاحب زادګان، ایستولي، آهنګران، الشاخېل، بلندي، اشپي وال، اوغن قلا. په اسکیني او اشپي کې ګڼ شمېر نور کلي هم شته چې نومونه یې په لاندې ډول دي.

**اسکیني**: پیلام(پیک لام)دارټا، اکاخېل، کجم خندا، کاتي لام، ادنا خېل، ګنجت، سرجل، کوتا ګجم خندا، ګستور، سرایي، منجوالا لام، کاتي لام، قلاګي،کچا بغل، سرکدر.

**اشپي**: ریسنګ، هاشمي خندا، دده کی، شاشه خندا، صادیقان، میرکه خېل، جانکه خېل، کوټنور، اوله سات، الکا، پټي شیر، لامیا، ورنا کونډا، شایودر، شکرسات، پایل، جمال راور دیرا، جامساټ، چوره خېل، ګل پل کونډا، ورګه کی، زربیګل کوټلي، تابسات، شامګاني، ملټا، ټنکی، دانه کندي، لوندي، سیر کوتي، کوټیلی، اودرخندا، حمزا محمد قلا، اودرپټا، اوټوک، میرا کوچ، کونډلي، نواباد، شترټا، اسودا خېل، ملا بیساټ، لکه ماسین، درغړان، جمشیروتا، دوله زاوا، انګوریک، ایمه کونډي، اوډي ساټ، الکاساټ، اشنګ چراغ، بری کوتي، خسر ساټ، کنډي، ستراج، کیکاج، تېنا

**تګاب ولسوالي**

د تګاب ولسوالي پورې مربوط پشهیانو د کلیو نومونه دا دي: دشتیان، جوره آوه، جنګ اباد، باباکلي، چار ماوه، شکوټ، نالاو(نالاب).

**نجراب ولسوالي**

په دې ولسوالۍ کې د پشه‌يي ميشتو کليو نومونه په دې ډول دي: دره غن او پچغان ، حسين خېل، چندان غول، باقي ساټ، بچي خېل (گنج) ، دالين ،گلبهار

**د کوهستان (بولغين) ولسوالۍ**

د کوهستان (بولغين) ولسوالي پورې اړوند د پشه‌يانو د هستوگنځايونو نومونه په دې ډول دي: قلعه عطا خان، قلعه مشرب، شوفه چې، شامدت خېل، شوانې، قلعه ميزا مير، حاجي خېل، عرب خېل، صبرو خېل، شين اکا خېل، کچو دره، قلی خېل، تاماس خېل، قبات خېل، بابه خان خېل، منور خېل، خم تربت، مليگر، لعل بيک خېل، رحمت خېل، دُرنامه، شاواخ غيرت خېل، چپ دره، ملنگ خېل، ارام کوټ، عمر خېل، خالدار خېل، بادر خېل، خليل خېل، زر دره. (لاموال،۱۳۹۲،۲۸ص)

**د کابل ولايت سروبي ولسوالي**

د کابل په ولايت اړوند د تگاب او لغمان ولايتونو ترمنځ د سروبي ولسوالي اوزبين دره کې د پشه‌يانو هستوگن ځايونه چې د لرغونې زمانو راهيسې په کې مېشت دي د کليو نومونه په دې ډول دي: لکه لام، اړه وو، چوپالا، همسرخان خېل، الکه خېل، ډوم دالام، تروړی، شش سير، گارای کوټی، خندو، بادام دړي، مجبور اباد. (لاموال،۱۳۹۲،۲۸ص).

**لغمان ولايت**

د لغمان ولايت لرغونې نوم (لمغان،لمپاکا)د چيني سياخ او مورخ له خوا ورته (لاپو که)نوم ورکړل شوی دی، چې د گندهاره د لرغونو، فرهنگي او ستراتيژيکو سيمو څخه شمېرل کېږي. د قرغه يي، الينگار، اليشنگ، دولت شاه او بادپښ په نامه پينځه ولسوالۍ لري، مرکز يې مهتر لام په نامه يادېږي. تاريخي اسنادو له صې پخواني الينايان د نورستان په مربوطاتو کې شمېرل کيده چې د بوديزم د مدنيت مرکز هم ياد شوی. د لغمان کليمې تسميې وجه په په دې ډوله ښودل شوی، ددې کليمې لومړی جز کې يې لام، لامه، لامک راغلي چې د نوم (ع) پلار چې مهتر لامک يا لامک نوميده، منسوب دی(يمين۱۳۸۸، ۲۳٦ص).په پشه‌يي او نورستاني ژبو کې لام و کلي او کور په مانا ده.لکه: مهتر لام، نور لام، دوم لام، کشر لام، شتر لام،کونټه لام، زيارت لام، اونگه‌لام. محمد گل خان لام، دوا لام، حکمران لام. لغمان ولايت کې پښتانه، پشه‌يي، تاجک او گجر قومونه پکې ميشت دي. اوس د لغمان ولايت هغه سميو په تفصيل سره ياودنه کوو چې پشه‌يان په کې مېشه دي.

### الیشنګ ولسوالۍ

الیشنګ ولسوالۍ چې په څو درو باندې وېشل شوې ده چې د پشه‌يي مېشتو د درو او د کليو نومونه په لاندې ډول دي.

**عمومي دره:** د عمومي دره کې د پشه‌يانو د کليو نومونه دا دي: نورام اليه، نورام سپلا، حاجي اباد، کونا غازی اباد، شهر کلو غازي اباد، دبرجو، نوم قلعه يا وطن ګټو، نلو قريو، کرندالي اليه،کرندالي سپلا، پوشين، شمسه خېل، کوله کړي، دوم لام، کوټا، دوم ليش، کاسکين، ګل تپو، نجلوم/نجيل، ګل وتو، سيخان وتو، اهنګر وتو، ماسان اليه، ماسان سپلا، هلکون اليه، هلکون سپلا، دولت شاه، منان کوړ، درانو قلعه، ويسمورا اليه، ويسمورا سپلا، چنډال، ګډياپو، بوم بۍ

**چانک دره:** د الیشنګ په چانک دره کې د پشه‌يي کليو نومونه دا دي: چپړا خندو/چپړا خېل، کولاخېل، پاينده خېل، راجه خېل، حسن خېل.

**شمکټ دره:** په شمکټ دره کې د پشه‌يي تاريخي قوم د هستوګن ځايونو نومونه په دې ډول دي: الولوم، مرچه کچو، چولا کيل، کړي شير، کوچ نارلوم، جان علي لوم،خندو شير.

**سايګل دره:** د سايګل په دره کې د پشه‌يي سيمو نومونه دادي: پراډولي، کندون، مانکولوم، موکولوم، بتيان لوم، سوچ، تارا، برندک، ننګ شاوو، لوټ خندو، اوشتور، سوبون، نچالوم، کونو وتو، فقير اباد، ګټاګلي، سيل پري. (په‌خپله ليکوال څېړنه)

### دولت شاه ولسوالي

د لغمان دولت شاه په مشهور ولسوالي کې د پشه‌يي ارياياانو د کليو نومونه په دې ډول دي: نورګرام، پشه‌يي ګر، ميل، مينو دو، شاه موينا، ګوک، نورلمنډي، دولت شاهو، يست مورا، الکون، چګلوم، ناوه ګل، سنجری منډول، ديوان دره، شاهي دړنګي، پومی کند کوري، انوګون، منانګر، خواجه کوشټا، داتب دره، نوپيا دره، کټان دره، چکي دره، مورا، ويس نولوم، چغډال، تمبلو ګړيال، کوڼ شير. ځينې درې چې د ولت شاه ولسوالۍ پورې مربوط دي او ګڼ شمې کلي لري لاندې ډول دي.

**اټوک دره:** په اټوک دره کې د پشه‌يي تاريخي قوم کليو نومونه په دې ډول دي: چکلو يا ډګران دره، ملنګانی، دنګرو، لټر اباد، رسيامی، بنګړي، ګور ګاوتو، قاسم دړ، کلندو، شير بکاني، دړبات، ګړي، دوکو، شادمير، انده لوم، ګوړو خندو، ناشب لوم، کولال کوټ، خندو شيمو، انکوټ.

**نيو دره:** د دولت شاه ولسوالي په نيو دره کې د پشه‌يانو هستوګن ځايونو نومونه په دې ډول دي: خواجه خندو، ملنګ کړو، وترو، دموړ، کشر لام، بوشی درو، کاتی لورم.

**گونه پال/اسلام دره:** په دې دره کې د پشه‌يانو کليو نومونه دادي: دوم کېچ، شوم بوم، کوتوال خندو، منج لوم، شگړو، بوم سين، خندو لوم.( لاموال،۳۳، ۱۳۹۲ص)

**قرغيو ولسوالۍ**

د لغمان ولايت د قرغيو په ولسوالۍ کې د پشه‌يانو مېشت ځايونو او کليو نومونه په دې ډول دي: کشمند، کومن، ډبرباړ، بوته گنجا، پېنک، ويچم دکا، چنار، پوس کندا، سرور بانه، کويلا، شونيک خوری، جر، لالو هړي، کنه ټوک کړيکا، بوون ونتا، بله کچا، مير ماند کبيلا، چلکانه هړي، کوڼ لام، پامورک، دوړ، ميلتن، کوله کندا، سوسي(سونسي)نل، لان لوټک، لان لوټک د همدې ولسوالۍ چارباغ د سيمې پشه‌يانو هستوگن ځای نومونه دادي: قلعټک، مسکوره، نواباد، پټول گمبا، کلالان، اده پوره، پلوټه، کونج ډيوه، گلارام، امبېړ. کشمند دره د قرغيو ولسوالۍ د چارباغ پورې موربوطه ده؛ خو د ننگرهار سړوې ولسوالۍ څخه لاره لري، چې په دې دره کې د پشه‌يانو د کليو نومونه په دې ډول دي : اسلام دره، ملک سير لام، اندو لام، خورا لام، سياکوټ، نلوا، کشمند(په‌خپله ليکوال څېړنه)

**الينگار ولسوالۍ**

دلغمان ولايت په سمسوره او مشهوره دره الينگار کې د پشه‌يي ولس د درو او کليو نومونه (د هرې درې سره اړوند کليو نومونه راغلي دي) دا دي: نورلام دره، کلمان دره، ساو دره ، سالاو او کچور دره، تگ دره، منگو دره. **نورلام صاحب دره:** په دې دره کې د پشه‌يانو کليو نومونه په دې ډول دي: وت جبارخېل، پرنيانه، کاهی کلا، اوټ کاني، منجه ونتا، شتر لام، کولک، نونړ، بلډيلا، کونټه لام، کوټلي، کاوو، پنچ پای، زيارت لام(پرم لام)، اونگه لام، ډگر لام، ډبرا، رای لمټيک، ډگه مالي، چټيلا، کبه لام، سه وو، سنگراک،کونده گل، ماسورا، سيروت، هورا، منج کلا(لاموال،۳۴، ۱۳۹۲)

**کلمان دره:** د الينگار ولسوالي د کلمان دره کې د پشه‌يانو کليو نومونه په دې ډول دي:کوټوک، توراک، کشر دکا، دولی کلا، قلندر کلا، دراو ما،گور جنډا، جنمير ونتا، بولام، قلندر، مزری، کونده گل، کاو.(لاموال،۱۳۹۲)کسردکا، گلارام، گورجن، پارچ، بولام، کلندر(غمجن، ۷۰، ۱۴۰۰ص)

**منگو دره**:دا دره هم د الينگار يورې مربوته سميه ده او د کليمو نومونه دا دي:منگو، دړين، اړوا، تپاک(غمجن تميل،۱۴۰۰). **سالاو دره:** د کلمان سالاو په تاريخي دره کې د پشه‌يي ولس د هستوگن ځايو نومونه دا دي: کور کندی، اصلي کلمان، کلندر، بولام، جنمير،کوی راک، کولک لام، لکړی، پند کچي، پارچ، کونټه لام، چل لام، شمش. **ساوو دره:** د سيو په مشهوره دره کې د پشه‌يانو کليو نومونه په دې ډول دي: قلعټک، مير گل قلا، بای لم، کنده گل، شموش، شيتن، سايمي، سالاوا،

کنده کوړیک، منده پال، کلا، خوجي کلا. (لاموال،۱۳۹۲،۳۵ص) سندروا، ایبه لام، منځ تګک، خوجم کوټ، برتګک، پنده کچي. **تک دره:** د تګ په مشهوره دره کې د پشه‌یانو کلیو نومونه په دې ډول دي: افغان لَم، هیبت لام، امبیږ، ملیل، کله لام، سنګاري. **سلاو او کچور دره:** کې د پشه‌یانو کلیو نومونه دا دي:کچور، کوز سلاو مینځ سلاو، برسالاو(غمجن،۷۵، ۱۴۰۰ص).

## ننګرهار ولایت

ننګرهار لرغونې کلیمه او نوم د لومړي ځل بطلیموس د (ناګارا) په نامه یاد کړی دی. چینایي څېړونکو په متونو کې (نه که لو هو) نوم ورته ټاکل شوی دی، دا چې ننګرهار په پخواني اثارو کې (ناګارا، ناګارا هارا،) په نامه ثبت شوی دی، چې د وجه نومونې له صې ننګراهار د (ننګر/نینهار/ننګهار) کلیمو څخه اخیستل شوی دی چې مانا یې شاهي قلمرو، د اوبو او نهرونو ښار، د عبادت ښار دی (یمین، ۱۳۸۸،۲۴۳ص) ننګرهار ولایت د افغانستان په پنځو لویو او ګڼ نفوس لرونکی ولایتو کې شمېرل کیږي، چې (۲۲) اداري واحدونه لري چې نومونه یې دا دي: جلال اباد(مرکز)، بهسود، سرخرود، چپرهار، رودات، کامه، کوز کونړ(ښېوه)، دره نور، شېرازاد، حصارک، خوږیاڼي، پچیراګام، ده بالا، کوټ، اچین، نازیان، دور بابا، شینوار، بتي کوټ، مومند دره، ګوشته او لعل پور دي. د ننګرهار ولایت کې ګڼ شمېر پشه‌یان هم اوسیږي، چې د هندوکش اود ګندهاره د درو او ورشو څخه د تاریخ په بېلابېلو پړاونو کې را کوچېدلي دي، خو لرغونې زمانې څخه ددې ولایت ځینو سیمو کې هستوګن او موقیعت لري چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

## کوز کونړ(ښېوه) ولسوالي

پشه‌یانو د تاریخي قوم هغه کلي او استوګنځایونه چې په دغه ولسوالي کې ودان شوي دي دا دي: کونا لام، قلعتیک، زرګر لام، اتاوړ، شات خان لام، ملک زی، شامل، چار قلعه، چلوا لام، دکن لام، ډاګیان، شیر ګړ، نوجو، بازارک، خشکی لام، سرجل، لمتیک، کافر جلا، غونډی لام، خرم لام، توکل لام، کېل، اکوړ ګوربک، اوټ ګوربک، توحید اباد او سورچ. د کوز کونړ ولسوالي هغه سیمې چې پشه‌یان د نورو قومونه سره په یوځای او ګډه اوسیږي: ګمبیري، کوز کاشکوټ، برکاشکوټ، بنګاو(په‌خپله لیکوال څېړنه)

## دره نور ولسوالي

په ننګرهار کې د پشه‌یانو میشتو سیمو کې تر ټولو ګڼ مېشته ولسوالي دره نور ده، چې دا ولسوالي په درې درو باندې وېشل شوېده، چې لومړی دره د املې قریې څخه پیل تر ولسوالي مقام (دوسرګا)

پوري ده. له دغه ځايه يوه دره د وايگل ده او بله دره د (نور) په نامه يادېږي، د دره نور په ولسوالۍ کې ديارلس لوی کلي شته، چې په هر يوه کلي کې نور ګڼ شمېر کلي شته چې دلته د لوی کليو د ټولو سېمو نومونه او په څنگ کې د لويو درو کې د کليو نومونه په لاندې ډول دي.

**امله:** ڵونډي،نؤرکني، سيد گل لام، محمد گل خان لام، شاويز لام، ناچرور، دوا لام، جبټک لام، ملك فقير لام، سيد گل لام، کامران لام، مېرمُنډک، باغ، املاڵو، سلاخان لام، چونېي شار، اېشمارا، کونټ، دوړنگتاني، پچا خلا، اوبار، ټپټنگ خلا، اوټ خلا، اکبر خان لام، بيباتي، کچي، جنگل،کريم خان لام، (په‌خپله ليکوال څېړنه) **نؤلاما:** صاحبزادگان لام، حکمران لام(پاچايان لام)، منجينا، کبير خلا، ننگره، بؤنتا، شاد بيك خلا، اسد خان لام، کوړغا(گوړگاه)، تلکي ډاگ، نلوا،سرور، غلام دين لام، اينگر لام، جانيمير خلا، مجبور اباد، عدل شاه خلا، جنجپور، قلعه شاهي، استاغر لام. **برکوټ دره:** په برکوټ دره کې د پشه‌يانو کليو نومونه دادي: برکوټ لام، دودرېك، لمټک،کشمنډ خلا، محمد امين لام، سرپه خلا، لام کندا، جانشگل، زيارت لام، وايگل. (په‌خپله ليکوال څېړنه) **نور دره:** دغه پشه‌يان د (نورای) په نامه هم يادېږي چې د کليو نومونه يې په دې ډول دي: شکيالي، سېگه يي، شيرم خلا، عمر خلا، بابا لمټک، کوټيلا، مادازم کونټليک، بمبه کوټ، ولس بابا، کوټل کندا، ورک ژيا، لام گوډ، سرگلک، ستن لام، منگه ړول(مچگنډول)، نالوال صاحبزاگان، اتران، شرېين، لمټک، چوال، لغيک، اکوړ کنداک، اوټ کنداک، ديوه گل لام(شېمل)، اريمن، بابا لمټک، مارپي بار، مسکين بار، شادي بار، ماشاخان خلا، پرن چېوال، نارې شن. (په‌خپله ليکوال څېړنه) د ننگرهار مرکز ته هم په دا څلورو لسيزو کې زيات شمېر پشه‌يان کوچېدلي دي، چې د اټکل له مخې يې شمېر سلګونو کورنيو ته رسېږي، چې قاسم اباد، بهسود، کمپيونه،خالص فاميليو او داسې نورو سيمو کې هستوگن دي.(په‌خپله ليکوال څېړنه).

## کونړ ولايت

کونړ ولايت د هېواد ختيځ لور ته چې د ننگرهار مرکز جلال اباد څخه (۱۵۰) کيلو متره فاصله کې موقيعت لري. ختيځ لورته د پښتونستان باجوړ، لويديځ لور ته يې لغمان او نورستان او جنوب ته يې ننگرهار ولايت موقعيت لري. د کونړ ولايت کې د نورگل، څوکۍ او چپه درې ولسواليو کې پشه‌يانو هستوگن ځايونو او کليو نومونه دا دي: اکوړ نورگل، اوټ نورگل، شولت ، آريت(ارېڵ)، وامه گل، شومای، اوشن کوړک، کنده، سلمبټ، مزه لامه، چومياري، کلماني، براړه کنده، وشم گنه لېك،

کندا، گنه گومن، مگربټ، گول میر کنده، سته لشتي، ډم کندک، اول گل، شته گل، ازوک، پیړوک، اندر لچک، کټار خلا، گونه گل، کته گل، چار خلا، کټار او گمبیر، چلس او گوړنگل.

**نورستان ولایت**

نورستانیان په خټه آریایان دي، چې د (۲۰۰۰ق م) په شاوخوا کې د بلخ نه د اریانا ختیځې برخې ته ولېږدېدل. نورستان د تاریخ په اوږدو کې بلور- بلورستان، کټور، کافرستان او نورستان په نومونو یاد شوی دی. بلورستان د نورستان قدیمي نوم دی. یا بلور او بلورستان د هغه هېواد نوم دی، چې قدیم نورستان د هغه یوه برخه وه. بلورستان په پخوانۍ زمانه کې د باختر ولایت جز او برخه وه.... نورستان په تېره د کټور په نامه هم یاد شوی دی. دغه نوم له اسلام څخه وړاندې کله نورستان په لویدځ او کله هم نورستان ټوله جغرافیه او ختی چترال پورې اطلاق شوی دی. یو خوا کټور د نورستان پخواني نوم دی، بل خوا د نورستان د قبایلو نوم هم دی. کافرستان نوم د اسلام په راتګ سره د نورستان سیمې ته کارول شوی، کله چې امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۹۵م کال کې کافرستان ونیو او هلته اسلام مبارک دین خپور شو، نو بیایې نورستان نوم ورباندې کېښود او په ۱۳٦۷ هـ ش کال کې د (۸) اته اداري واحدونو په درلودلو سره مستقل ولایت په توګه رامنځته شو(ځدراڼ،۱٦۲،۱۴۰۲ص). د نورستان د نورگرام او دوه‌آبه په ولسوالیو په ځینو سیمو او هم د نورستان په نورو دروکې لکه(تتین، نکره، کلم، مسوي، کوټ گل، پشال، شاما، پیار) پشه‌یان له وامه‌یانو(په کوردر)، او نورستانیانو سره ګډ میشت او هستوګن دي(غمجن تمیل،۴۷،۱۴۰۰ص). تر دې ځایه مو د هغو ولایتونو او د هغو پورې د اړوندو ولسوالیو یادونه وکړه، چې په زیاته کچه پشه‌یان په کې مېشت وو، اوس په موضوع سره په تړاو هغه ولایتونو او ورپورې تړلي ولسوالۍ راوړو چې لږ اندازه پشه‌یان په کې مېشت دي.

**بدخشان** : شهر بزرک، کشم،سرجر، **تخار**: نهر چمن، **کندز**: باغ میر، آقتاش، قریه اندرابي، دره شوراب خان اباد، **بغلان**:خوست فرینګ ولسوالۍ کې په تګاب پشه‌یي، د اندراب ولسوالي په دره پشه‌يي، بغلان په زاړه ښارکې پشه‌يي کلی، پشه‌يي متوسطه ښوونځی او غونډۍ، پشه‌يي او کلمانیو کلي(کلماني،۷،۱۳۸۹ص). و په جرخشک سیمه او هم د پلخمري په لویدیځه برخه کې پشه‌يي دره.

**بلخ**: د بودینه قریې سیمې د بودنه قلا یا سترګوټ کلی چې د کلماني په نامه هم یادیږي.

**د پشه‌یانو نفوس**

د پشه‌یانو د نفوس په هکله کره معلومات وړاندې کول یو ستونزمن کار دی، بیا هم د «حقیقت انقلاب ثور» ورځپاڼې د (۲۲۰) ګڼې په دویم ص کې د « نگاهی به زنده‌گی ملیت پشه‌یی» تر سرلیک لاندې

مطلب کې تر نیم مېلیون زیات ښودل شوي دي.( شپون،۱۶،۱۳۸۸ص)د پښه‌یي ژبې د (پشیس الپېبا کیتبي) نومي اثر چې  په ۲۰۰۳ میلادي کال کې چاپ شوی دی، د دې اثر په سریزه کې د دره نور د ټولنیزې پرصتیایي پروژې مسؤل جوهونګ یون وایي چې پښه‌یي ژبه چې دوه زره کاله تاریخ لري او تقریبا (۴۰۰۰۰۰) یا څلور سوه زره خلک په دې ژبه خبرې کوي.(ج. یون،۲،۲۰۰۳ص) پښه‌یانو د نفوس په هکله چې لږ تر لږه تر یو مېلیون څخه زیات وګړي به ولري(کلماني،۱۵،۱۳۹۶ص) همغسې لکه څرنګه چې موخکې وویل، چې دقیق معلومات ترلاسه کیدای نه شي، ځکه یو خو د وخت په تیریدو ځینی پښه‌یان په تیره په سمو سیمو کې خپله ژبه پریږدي او پر ځای یې پښتو او دري ژبو ته چې زمونږ د هېواد لویې او رسمي ژبې دي مخه کوي او بل دا چې د لږکیو قومونو او توکمونو په تیره پښه‌یي ته هېڅ پاملرنه نه وه شوې او په قومي لحاظ د پښتنو او تاجکو تر منځ ویشل شوي او یاد کوشتاني او دیګان په نومونو یاد شوي وو، خو سره له دې هم د دوی نفوس په ځینو اسنادو کې ډېر پخوا سل زره، یو سلو شل زره او دوه سوه زره او په وروسته وختونو کې شپږ سوه زرو څخه شاو خوا لري(غمجن،۱۲،۱۳۰۲ص) خو په رسمي احصائیو کې د دوی د ژبې او نفوس اندازه ډېره کمه ښودل شوې ده، دا ځکه چې داحصائیې د مرکزي ادارې د ۱۳۶۴ کال د (اطلس محلات افغانستان) په نوم کتابونو کې ډېر پښه‌یي ویونکي کلي، په پښتو او دري  ژبوویونکي معرفي شوي دي ، د ننګرهار کوزکونړ د ولسوالی خلک چې اکثریت یې پښه‌یي ژبه وایي پښتو ویونکي ښودل شوي دي.(فرحان،۳۳،۱۳۹۸ص)

**پایله**

ددې څېړنې پایلې په دې توګه ویلی شو، چې پښه‌یان د افغانستان اصلي اوسېدونکي او آریایان دي. له هغو لسو آریایي قبیلو سره تړاو لري، چې کومو قبیلو د هندي پاچا «سوداس» سره جګړه کړې وه ترڅنګ یې، پکهت(پښتانه) الینا(پشه‌یان) ویسانن(ګندهاریان)...داسې نور. الینایي خلک د الینګار او الیشنګ خلکو ته ویل شوي دي. پښه‌یان هېواد په ختیځو برخو د هندوکش د غرونو په لمنو، د کابل ختیځ افغانستان، کاپیسا، بدخشان، لغمان، ننګرهار، کونړ، نورستان او په ځینو نورو کلیو او ښارونو کې د خپلو پښتنو، تاجکو، نورستاني او نورو ورونو ترڅنګ په ګډه سره ژوند کوي. چې د لرغوني بلخ څخه د لومړنی کوچیدنې څخه وروسته له پیړیو پیړیو څخه را په دې خوا په همدغه اوسنی سمسوره سیمه کې اوسېدلي ددې قوم د تاریخي قدامت یې څرګند دی او هم د هغو سیمې،کلي او بانډې مو وپېژندل چې پښه‌یان په کې مېشت دي او تر اوسه پورې په کومو اثارو کې نه دي روښانه شوي او د

اکثرو سیمو پشه‌يي نومونه څخه ددې سميو د اصلي اوسيدونکي په توګه پيژندل کيږي،چې د اټکل له مخې يو ميليون پورې نفوس کېدای شي.

**ماخذونه**

جوهونګ يون. پشيس الپيا کېتبې. شاه مراد خان، جلال اباد. چاپ کال:۲۰۰۳م
ځدراڼ، محمد شريف.(۱۴۰۲ ل). په ننګرهار کې غير پښتني قومونه.څهار دهي صنعتي مطبعه،کابل
ځدراڼ، محمد شريف.(۱۴۰۲ ل). د افغان ملت پېژندنه.څهار دهي صنعتي مطبعه،کابل
دوست، دوست محمد.د افغانستان ژبې او توکمونه.چاپ کال ،۱۳۵۴ ل.پښتو ټولنه، دولتي مطبعه
شپون ، څېړنيار وجيه الله. د پښتو او پشه ياتو د شفاهي ادبياتو ځينې ورته بيلګې .کابل: د علومو اکاډمي. ۱۳۸۸ل.
غمجن، نور محمد. د پشه‌يي محيط خلکو اوژبې معرفي . د بيهقي کتاب خپرولو رياست، چاپ کال/۱۴۰۰ هـ ش.
غمجن، نور محمد. د پوهندوی نورمحمد غمجن تميل د مقالو مجموعه . د بيهقي کتاب خپرولو رياست، چاپ کال/۱۴۰۰ ل
فرحان، فريدالله. د پښتو او پشه‌يي متلونو پرتليزه څېړنه.ليکلو نېټه:۱۳۹۸ ل. ناچاپ.
کلماني، محمدزمان. پشه‌يي يکی از اقوام و زبانهای افغانستان. مطبعه مسلکی افغان.چاپ کال ،۱۳۹٦هـ ش، کابل
کلماني، محمدزمان. (۱۳۸۹هـ ش). پشه‌يي افغانان.د بهيقي کتاب خپرولو موسسه.ازادي مطبعه.
لاموال، عبدالمالك. په پشه‌يانو کې لاسي کارونه،علومو اکاډمي،نشراتو رياست.چاپ کال ۱۳۹۳ ل. بهير مطبعه، کابل.
مصاحب، غلام محسين. دايرة المعارف فارسي،لومړی ټوك.۱۷۹ص
يمين،محمد حسن.افغانستان تاريخی، انتشارات سعيد.چاپ کال،۱۳۸۸ هـ ش.کابل.